سراج الحق ببرک زی ځدران ۲۰۱۵/۱۰/۰۱

د ملاعمر د مړينې څخه ورسته د پاکستان د طالب پټه ستراتيجۍ

ليکواله : اغلي سوزانه کوُبل

سرچينه : ډير شپيګل آنلاين

طالبان داسي ښکاري، چې دوی د خپل مشر ملا عمر د مړينې څخه ورسته د پخوا نه اوس نوره ښه سمبال شوي او پياوړي شوي دي. د پاکستان استخباراتي شبکو له طالبانو سره په دې برخه کې په ځرګنده او واضع توګه پټه مرسته وکړه. دا حالت د ګوندې هيواد افغانستان لپاره يو ډير خطرناکه پرمختګ دی.
طالبان په دې وتوانيدل، چې خپل غورځنګ د وښل کيدو له ګواښ څخه وژغوري. د وفات شوي مشر ملا عمر کورنۍ هم د طالبانو له نوي ټاکل شوي مشر ملا اختر منصور سره خپل بيعت اعلان کړ. دا خبر په يوه ويډيو کې، چې د پاکستاني رسنيو له خوا په تيره اوونۍ کې د سختديزو اسلامپالو په اړه خپره شوه، وښودل شوه.
د ملا عمر د مړينې څخه ورسته د هغه ورور ملا عبدالمنان او د ملا عمر زوي ملا محمد يعقوب د ځاياناستي په توګه راپورته شول. برسيره پر دې د طالبانو ترمنځ د واک په سر سيالي د نوي ځاياناستي ملا منصور په خلاف پيل شوه .د دوی د ټولو په سر کې د طالبانو پخوانۍ پوځي مشر قيوم ذاکر راځي.
ملا منصور د مشر ملاعمر څخه ورسته د طالبانو په غورځنګ کې دويم نمبر مشر وو. ده خپل ځان لومړی د مشر ملا د مړينې څخه ورسته د اميرالمومنين په توګه اعلان کړ. د جګپوړو طالب قوماندانانو لخوا د هغه له ټاکل کيدو سره مخالفت وښودل شو، ځکه ملا منصور له دوی څخه د ملا عمر مړينه پټه ساتلې وه او ده په خپل سر په يو اړخيزه ډول د ملا عمر په نامه قوماندي او پيغامونه صادرورل. د طالبانو د مشرتابه عالي شورا د يوې بلې شورا جوړيدو غوښتنه کړې ده، تر څو دوی خپل نوي مشر په اصولي توګه وټاکي.
د طالبانو د واک شخړې په پای ته رسيدو کې پخوانيو مجاهدينو لکه د جلال الدين حقاني جنګياليو مرسته وکړه. جلال الدين حقاني د جهاد د لومړنيو ګنډو او شپو ورځو يو پخوانۍ سرتيری دی.
کله چې ۱۹۷۹ کال کې د شوروي اتحاد سور پوځ د افغانستان د هندوکوښ په غرنو کې يرغل پيل کړ، له همدې مهاله دی په افغانستان کې د حقاني شبکې په نامه د بهرنيو سرتير په وړاندې جنګيږي. له دوی څخه د پاکستان د استخباراتي اداري اي اس اي ټينګ ملاتړ کيږي. په افغانستان کې د حقاني شبکه د ډيرو ناوړو خونړيو ځانمرګي بريدونو مسوولګنډل کيږي.
د حقاني شبکې مرکز د پاکستان په قبايلي لرو پرتو سيمو کې موقعيت لري، دغو سيمو ته په اسانه ورتګ ناشوني دی. د حقاني زوی سراج حقاني اوس د طالبانو د راتلونکي نوي مشر مرستيال ټاکلي شوي دی.

د طالبانو په مشرتابه کې د پاکستان په خوښه دوه مخکښه کانديدان

د پاکستان په شمالي ولايت خيبر پښتونخوا کې د دارالعلومي حقانيه مدرسه يوه با نفوذه مذهبي مدرسه ده. په ښکاره ډول په تيره اوونۍ کې د حقاني مدرسي د علماوو څخه او دوی د ستر اغيزمن اغيز اونفوذ څخه د ملا منصور د مخالفينو په ځپلو کې تر ورستي کچې پورې کار واخيستل شو.
د طالبانو د حقاني مذهبي مدرسه له اوږدې مودې راهيسې د پاکستان له اې ايس اي سره مستقيماً نږدې اړيکې پالي. دوی هم په افغانستان لکه د حقاني اسلامي سختديزه شبکې په ځير خپلې موخې تعقيبوي، تر څو په افغانستان کې

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

لويديځ پلوه حکومت له سقوط سره مخامخ کړل شي. د دې سره سره بيا کله نا کله اسلام اباد په خپلو رسمي ويناووکي يادونه کوي، مور د کابل له حکومت سره همکاريو.
د ملا منصور او د ده مرستيال سراج حقاني د پاکستان د اې ايس اې په خوښي او ملاتړ سره دوه جګپوري کانديدان د طالبانو د وسله وال پوځ او مشرتابه کې دي.
افغانستان کې د پاکستان د پټې ستراتيجۍ لامل دا دی، پاکستان فکر کوي چې دغه هيواد په يو مخيزه ډول د بدنامه او ويرونکي ګاونديو هيواد هند په لوري وردورومي. پاکستان د هند سره دري ځلي جګړې هم کړي دي. د پاکستان د نا رسمي پوځي دوکټرين په بنسټ کې داسي ليکلي شوي دي، دوی مجبور دي په کابل کې يو پاکستان پلوي اوهمهاله يو هند دښمنه حکومت نصب کړي. تر څو افغانستان د کړکيچ په صورت د پاکستان لپاره د شاتګ يوخوندي ځای وګرځي. پاکستان نشي کولي خپلې غوښتنو او ادعاوو ته د نړيوالو قوانينو پر بنسټ دليل راوړي، له همدې امله د پاکستان لخوا له مرسته کيدونکې طالبانو څخه د يو لاسپوڅي او مذور وسله وال پوځ په څير د خپلو ناوړو ګټو لپاره استفاده کيږي. د پاکستان پوځ په افغانستان کې د طالبانو پوځ ته د خپل نماينده پوځ په څيرګوري .
په لومړي ځل د حقاني شبکې په يوه ۹۰ دقيقي ويډيو کې هغه طالبان جنګيالي ښايي، چې د دوی لخوا پوځي زده کړه او روزنه ورکول شوي ده، په ويډيو د دوی د پرپاګنډ مرکز هم ليدل کيږي او دغه ويډيو په ډيرلګښت سره هم چمتوکړل شوي ده. د حقاني شبکې د ويډيو د جوړښت ډول او تخنيک داسي مالوميږي، لکه د القاعدې او د اسلامي دولت ډلې په خپلو ويډيويي تبليغاتو کې ترينه کار اخلي. په ويډيو کې يو شمير کسان ښودل کيږي، چې يو ځانمرګي برید چمتو کوي او د سپکو وسلو استعمال ليدل کيږي او د پرمختللي راکيټي سيستم ټرنينګ ښودل کيږي. د حقاني شبکې د صلاح الدين ايوبي کمپ، چې د يو نوموتي ځانمرګه بريدګر په نوم دی، په شمالي وزيرستان کې او يا د افغانستان په ختيزو سيمو کې ځای پرځای شوي دی.
په دغه ويډيو کې د پام وړ ټوکی دا دی، چې وسله وال جنګيالي په عسکري دسپلين او پوځي جامو کې ليدل کيږي، دغه جنګيالي هڅه کوي چې ځانونه د يو نورمال منظم وسله وال پوځ يا يوې منظمې پوځي قطعې په څير وښيي. په ويډيوکې داسي ښکاري، چې د پاکستان استخباراتي اداري اې ايس اې غړي د دغې وسله والو پوځ کنټرولونکي او تنظيمکونکي دي .
په دغه ويډيو کې يود ډيرمهم او پيچلي ځانمرګي برید پلان او طرحه ښودل کيږي، چې په څلورم د سپټمبر د غزني په ولايت کې د افغان ملي امنيت په وړاندې تر سره شو. د کابل حکومت د خبري سرچينو پر بنسټ په دې ځانمرګي برید کې د افغان ملي امنيت ۱۴ غړي ووژل شول او ۱۵۴ نور افغان ملکي وګړي ټپيان شول .
د پاکستان د طالبانو د ستراتيجۍ پيغام واضع دی، دوی غواړي وښيي چې د مشر ملا عمر د مړينې څخه ورسته بيا هم د طالبانو ضربتي ځواک نه ماتيدونکي دی او همداسي د مجاهدينو د مختلفو ډلو يووالي په کې ښودل کيږي. دا حالات دا ښيي، چې دوی په خپلو کې يعني د القاعدې مشر ايمن الظواهری، ملا منصور او د طالبانو په منځ کې مخالف ځواکمن لوري پخواني پوځي قوماندان ملا قيوم ذاکر د نوي مشرتابه سره بيعت کړي دی او دوی د نوي مشر اطاعت کوي، يا نوي مشر چې کومې لوري ته هدايت کوي، دوی ورسره ولاړ دي.
د طالبانو مشر د ملا عمر د فنټوم انځور يا ګونګ، ناڅرګند انځور د پای ته رسيدو سره کيدای شي د طالبانو غورځنګ لا نوره پياوړي شي. ځکه د طالبانو دا نوي مشران د خپلو ملاتړو په راجلبولو کې او د خپلې مبارزې او غوښتنو لپاره له ډليز ټولنيزه رسنيو څخه هم کار اخلي.

پای

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ